# خر ماغزه نه لري

روشن لال ملهوتره



# خر ماغزه نه لري

(دماشومانو لپاره روزنیزې کیسې)

لیکوال: روشن لال ملهوتره

۱۳۹۱ لمریزکال

د ال انډیا راډیو د پښتو څانګې پخوانی مشر ښاغلی روشن لال ملهوتره

## کتاب پیژندنه :


| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | : | خر ماغزه نه لري |
| لیکوال | : | روشن لال ملهوتره |
| د اثر ډول | : | د ماشومانو لپاره روزنیزي کیسي |
| سریزه، لټون او سمون | : | رفیع الله نیازی |
| کمپوز | : | رفیع الله نیازی |
| خپروونکی | : | د افغانستان قلم ټولنه |
| د پښتی طرحه | : | رامین نقشبندي |
| چاپخونه | : | میوند خپرندویه ټولنه |
| چاپ شمې | : | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۱ هـ .ل. |
| تیلفون شمېره | : | ۰۷۹۹۸۶۱۲۹۹ |

# لړلیک

سرلیک
مخ


۱ ــ شوم ګیدړ ........................ ۱
۲ - ښکاري او چنچڼه .......................... ۳
۳ - پوهه که په لاس ورشي د احمق ......... ۵
۴ - کارغه ................................... ۷
۵ - تنکی نولی ................................ ۹
۶ - اړی مار خر .............................. ۱۱
۷ - احمق دوست .............................. ۱۴
۸ - هوښیارتوب ................................ ۱۶
۹ - ډینګ .................................... ۱۸
۱۰ - لېوه د ګډ په جامه کې ................. ۲۰
۱۱- د سرو زرو هګۍ .. ........................ ۲۳
۱۲ - میږی او کوتره ......................... ۲۵
۱۳ - درحیم سخاوت ..... ...................... ۲۷
۱۴ - سپېره سړی ............................. ۲۹
۱۵ - بغض ..................................... ۳۱
۱۶ - دوه پیشوګان ............................ ۳۳
۱۷ - زمری او سویان .......................... ۳۵
۱۸ - خر ماغزه نه لري ........................ ۳۸
۱۹ - فیل او میږی ............................ ۴۲
۲۰ - دوه سری مارغه ......................... ۴۴
۲۱ - خړ پړانګ ................................ ۴۷
۲۲- ښامار او میږیان ......................... ۴۹

# یادښت

څو کاله مخکې مې، د ( خر بی فرهنگ ) په نامه کتاب ولید. په دې خوشحاله شوم چې، یو نوی کتاب مې گوتو ته راغی، مگر په دې خپه شوم چې، په عنوان کې یې، خر توهین کړی و. له ځانه سره مې وویل چې، انسانان به، تر څو پورې، دا عاجز، بې گناه او بېچاره حیوان توهینوي. تر څو به دغه عاجز حیوان ته، بد رد ویل کیږي او په هر وخت او هر ځای کې به، په سپکه سترگه ور ته کتل کیږي. ایا رښتیا هم، خر دغومره ناپوه، سادگی او احمق دی چې، په څو څو ځله غولیږي. شپې او ورځې وتې، بله ورځ چې، زما ( د خبرو گوډی) کتاب چاپېده، نو ددغه اثر د پښتی جوړوونکي ته مې وویل چې، د خره په غاړه کې، د ډالرو امیل ور واچوه، تر څو ددغه کتاب د پښتی طرحه، د ( خر با فرهنگ ) مفهوم منعکس کړي. څه سر به مو خوړوم، ډیزاینر زما په خبره عمل وکړ، پښتی کټ مټ هغه وړ وکښښل شوه، اثر چاپ شو او د طنزونو په کانکورکې یې، جایزه هم وگټله. خو په خره باندې، د تورونو او تهمتونو دغه لړی، نه یوازې و نه درېده، بلکې نوره هم اوږده شوم او دا دی تاسي گورئ چې، د ال اندیا راډیو د پښتو څانگې د پخواني مشر ښاغلي روشن لال ملهوتره کتاب هم، په دې نامه چاپیږي چې، ( خر ماغزه نه لري). دا چې، دا خبره رښتیا ده اوکه بر عکس ، گران لوستونکي به یې، په دغه ښکلي کتاب کې، په خپله ولولي او قضاوت به پرې وکړي. مگر تر کومه ځایه پورې چې، په خره پورې اړه لري، هغه دا تورونه او تهمتونه نه مني. خپل ځان نه یوازې د مغزو خاوند بولي، بلکې ادعا کوي، که تاسي په ښوونځیو کې کتابونه ویلي، ما دغه کتابونه او گڼ شمېر ورځني اخبارونه او ورځپاڼې خوړلي او په دې وړ، ددغو کتابونو او اخبارونو ټول ټکي، زما په معده او مغزو کې ثبت شوي او زه یې، د « پروفیسری » تر بریده پورې رسولی یم.

تر کومه ځایه پورې چې، موږ پوهیږو، خر په انساني ټولنه کې، ډېر خدمتونه هم کړي دي، ډېرو لویو بارونو او کارونو ته

يي، خپلې اوړې وركړې دي. په ځانګړې توګه، د خوراكي موادو په رسولو او د ودانيو په ابادولو كې، د خره له رول نه سترګې پټول، له انصاف او عدالت نه لرې خبره معلومېږي.
ويل كيږي چې، په خره باندې دغه تورونه، اوسنی بنه لري، په پخوا زمانو كې چې، د نن زمانې په څېر د مالونو د وړلو او راوړلو او د كارونو د كولو لپاره، ترانسپورتي اسانتياوې نه وې، خر هم، په انساني ټولنه كې ډېر عزتمن و.
ويل كيږي چې، په پخوا زمانو كې، د يوه سړي خره، د يوه بل سړي د شوتلې شنه پټې ته ورغلې وه او يو څو ګولې شوتله يې ترې خوړلې وه. په دې وخت كې، د شوتلې د پټي خاوند راغلی و ، هغه نه خره وهلې وه او نه يې خوړ كړې وه، يوازې يې د هغې د لكۍ يوه برخه ور پرې كړې وه. كله چې دا خره، د اصلي څښتن كور ته رسېدلې وه، د خرې خاوند ليدلې وه چې، د خرې د لكۍ يوڅه برخه يې، غوڅه پرې شوې ده. په هغه دا خبره او دا ناوړه كار، ډېر دروند او سخت تمام شوی و او د خرې د لكۍ د يوې برخې پرې كول يې، د خپل ځان، د بې حرمتي او بې سترې په مانا تعبير كړې وه. څه سر به مو خوږوم، په دې وخت كې، له يوې او بلې خوا، د خره پلويان او د خره مخالفين راغلي وو. ټول په دغه شورماشور او د خولې په جنګ ور ګډ شوي وو، په پای كې ټولو ټوپک سره را اخيستي وو او دواړو خواوو، داسې سخت جنګ سره كړی وو چې، ګڼ شمېر كسان پكې وژل شوي وو. يو كوچی سړي چې، په لار تېرېده، دا حال او دا مړي يې ليدلی وو، په ډېر افسوس يې، دا متل كړی و چې:
مړه دې وای په سره اوښه ـ نه په سپيره خره
لنډه دا چې، په دې كوچني كتاب كې چې، د كوچنيانو لپاره پوره دوه ويشت (۲۲)روزنيزې كيسې را وړل شوې دي، د حيواناتو په ژبه او د سمبولونو په بڼه، له عجيب او غريب ادبي كيف او خوند نه ډكې دي. ډېر ښايسته او له پند نه ډک ټكي پكې بيان شوي دي. دا كيسه يې پندونه، د كوچنيانو د ښيګڼې په منظور

کېښنل شوي دي. پوره هيله من يو چې، ګران لوستونکي به يې، د زړه په غوږو واوري او لارښووني به يې، د اړتيا په وخت کې، د خپل ژوندانه سرمشق وګرځوي.
د افغانستان قلم ټولنه وياړي چې، د خوږو کوچنيانو لپاره، د داسې خوندورو کيسو د چاپ وياړ لري او ليکوال ته يې، سر له اوسه، ډېره ډېره مبارکي وايي. که تاسې داسې نورې ادبي مرغلرې هم، زموږ په کوچنيانو باندې را وشيندی، موږ د زړه له کومې خوشالېږو. موږ ټل، د داسې ادبي مرغلرو په تمه يو.

د تاسې ليدو ته سترګې په لار
ځېرندوی محمد نبي صلاحي

---

کابل ـ نوی ښار

# ددې تولګې په اړه

د ۲۰۱۲ م .کال په ډېسمبر میاشت کې زه دماسترۍ دتیزس لیکلو لپاره ډیلی ته ولاړم . ما خپل تیزس د ال انډیا راډیو د پښتو څانګې د پخواني مشر ښاغلي روشن لال ملهوتره پر ژوند او پښتو ژبې ته یې پر خدمتونو باندې لیکلی دی .

روشن لال ملهوتره د پښتونخوا دسوات په کابل ګرام سیمه کې کې زیږېدلی ، د ۱۹۲۵ او دېرشو میلادي کلونو په شاوخوا کې یې کورنۍ، له سوات نه ډیلي ته ولاړه او تر اوسه پورې همالته ژوند کوي .

تر پنځم تولګي پورې زده کړې یې د سوات په مینګوره اوپاتې نورې یې د هندوستان د اترپردېش ایالت دیوې سیمې په یوه ښوونځي او نوي ډیلي کې د ماسترۍ تر کچې پورې ورسولې .په پښتو ژبه دلیک لوست د زده کړې له امله ورته له ۱۹۶۹ م .کال نه، د ال انډیا راډیو په پښتو څانګه کې، دکار کولو موکه برابره شوه او د ۱۹۷۱م .کال په فیبرورۍ میاشت کې دال انډیا راډیوپه پښتو څانګه کې، د ژورنالیست په توګه رسمي دنده پیل کړه .

د ۱۹۸۲ م .کال په اګست میاشت کې د ال انډیا راډیو د پښتو څانګې مشر وټاکل شو او د ۲۰۰۹ م .کال تر دیسمبر میاشت پورې یې د پښتو څانګې دمشر په توګه کار وکړ ، له یادې نېټې وروسته تقاعدشوی او اوس په کورناست دی .

روشن لال ملهوتره په ال انډیا راډیو کې دخپل څلوېښت کلن ژورنالیستي کار په بهیر کې، له ډېرو پښتنو پوهانو، ادیبانو،

ليکوالو او سياستوالو سره د پېژندګلوی، خبرو اترو او د هغوی د ژوندانه په بېلابېلو برخو د راډيوي خپرونو جوړولو، د افغانستان او پښتونخوا د پېښو او حالاتو په ښارلو او په ټوله کې ،د پښتنو دتاريخ ، د پښتو ژبې د ادب مطالعې د دې جوګه کړ چې، په پښتو ژبه سياسي، ادبي، کلتوري او ټولنيزې مقالې وليکي . دپښتو ژبې په هنري ادب کې يې لنډې کيسې وليکلې ، چې له امله يې، روشن لال ملهوتره په هندوستان کې د پښتو ژبې د يوه خدمتګار ليکوال حيثيت تر لاسه کړ .
د هندي ادب د نوموتوکيسه ليکوالو کيسې يې پښتو ژبې ته راژباړلي چې، په دغو کيسو کې يې د هندوستان د مشهور کيسه ليکوال رابندر ناتهـ ټاګور مشهوره کيسه ( کابلي والا ) هم پښتو ژبې ته راژباړلې ده .
د بدلون، د آمر مېلمستيا او د هندي – پښتو قاموس په نامه آثار يې چاپ شوي او څوارلس نور ناچاپ آثار هم لري . له ښاغلي ملهوتره سره د خبرو اترو او د هغه د ادبي کار د جاج اخيستلو په بهير کې راته دا څرګنده شوه چې، په پښتو ژبه يې د ماشومانو د ادبياتو په برخه کې هم د قدر وړ کارونه کړي دي . د ال انډيا راډيو پښتو څانګې د پښتنو ماشومانو لپاره يو مهال ( د سباوون غوټۍ) په نا مه خپرونه درلوده او دا خپرونه به ښاغلي روشن لال ملهوتره جوړوله .
پدې خپرونه کې به دمعلوماتي او تفريحي خپرونو تر څنګ ماشومانو ته يوه يوه روزنيزه کيسه هم له راډيو څخه خپرېدله . ستاسو په لاس کې د روزنيزو کيسو ددې ټولګې ډېرى کيسې (د سباوون غوټۍ) خپرونې لپاره ،ښاغلي ملهوتره له پنچتنتر نه په ګټه اخيستنه او د ځينو نورو سوژو پر بنسټ ليکلې دي .
کله چې ما د ډيلي په شاليمار باغ کې ،د ښاغلي ملهوتره په کور کې د هغه په شخصي يادښتونو کې دا کيسې وموندلې ، نوخداى شته ډېر خوشحاله شوم، ځکه چې له افغانستان او پښتونخوا دباندې، په يوه سيمه کې په پښتو ژبه دماشوم د ادبياتو په برخه کې

کار کول، د پښتنو ماشومانو ، پښتو ژبې او په ټوله کې د پښتو ژبې د ادب تاریخ یوه داسې غوره برخه ده چې، باید دتل لپاره خوندي شي . دغه ډول لیکنې راټولې ،چاپ او لروبر مېشت پښتانه ترې خبرشي، چې چا، دنړۍ په کومه سیمه کې، دتاریخ په کوم پېر کې، د پښتو ژبې لپاره څه کړي دي چې،په راتلونکې کې پښتانه دخپلې ژبې خواخوږي وپېژني . همدغه ارزښت او اهمیت ته په کتو سره، ما ښاغلي روشن لال ملهوتره ته وویل چې، زه به ددې کیسو یوه کاپي له ځان سره یوسم، ګوندې په کابل کې څوک پیداشي او دا کیسې د یوې ټولګې په توګه چاپ کړي ، هغه راسره ومنله او د موندل شوو کیسو یوه کاپي مې له ځان سره راوړه .

دا روزنیزې کیسې، دماشومانو د ادبیاتو له اصولو سره برابرې کیسې دي . ژبه یې ساده او روانه ده ، هره یوه کیسه، یو ساده او اسانه پېغام لري . دماشومانو د عمر له کچې سره برابرې دي او د ډېرو کیسو کرکټرونه یې هم حیوانات دي،چې په فطري توګه، دماشومانو ورسره ډېره مینه وي .

که څه هم، ځینې کیسې یې لږې اوږدې دي ، خو دسوژو او موضوعاتو له مخې خوږې او خوندورې دي . زما د څېړنې له مخې د دې کیسو ډېر اهمیت پدې کې دی چې ،په هندوستان کې ښاغلی روشن لال ملهوتره لومړنی پښتو لیکوال دی چې، په پښتو ژبه یې د ماشومانو د ادبیاتو په برخه کې کار کړی اوروزنیزې کیسې یې لیکلي دي. که څه هم د ال انډیا راډیو ځینو نورو پخوانیو کارکوونکو د هندوستان ځینې ولسي ( فولکلورې) کیسې، پښتو ژبې ته را ژباړلي دي چې، ښایي ماشومان هم پکې ونډه ولري،خو په هندوستان کې پښتون ماشوم ته د ماشوم د ادبیاتو په برخه کې دکار کولو لومړنی اعزاز، ښایي ښاغلي روشن لال ملهوتره ته په نصیب وي . ځکه چې د ( سباوون غوټۍ) په خپرونه کې د لوبو دمعرفۍ په برخه کې، د نړۍ د نامتو ځایونو،

په چاپېريال کې د پېښېدونکو ساينسي پېښو او نورو ډول ډول موضوعاتو په اړه خپروني يوازې، روشن لال ملهوتره جوړې کړي دي .
کله چې زه له هندوستا نه کابل ته راغلم ، نو پدې لټه کې شوم چې، څوک پيداشي او دا کيسې چاپ کړي . له ځينو کسانو سره وغږېدم، هغوی راته د چاپ وعدې هم راکړې . له نېکه مرغه، يوه ورځ په خپل دفتر کې، د دې ټولګې د کيسو په کمپوزولوباندې بوخت وم، ګورم چې، ښاغلی څېړندوی محمد نبي صلاحي کوټې ته راننوت، له سلام اچولو او روغبړ وروسته رانه، صلاحي صاحب پوښتنه وکړه چې، پرڅه بوخت يې ، ما ورته ټوله کيسه وکړه .
صلاحي صاحب راته وويل چې، زه به يې درته چېرته، دچاپ غمه وخورم . بله ورځ مې کتل، صلاحي صاحب بيا دفتر ته راغی او راته يې وويل ، هغه کيسې راکړه ،چې ما يې د چاپ غم خوړلی دی. خدای شته، په دغو ورځو کې دومره بوخت وم، چې سر ګرولو ته مې هم وخت نشو پيداکولای، خو بيا مې هم ټول کارونه پرېښودل او دشپې مې دا کيسې کمپوز کړې او صلاحي صاحب ته مې وسپارلې .
پدې کيسو کې ما يوازې ژبنی سمون کړی ، ټولې کيسې، د اصل پر بنسټ، له تحريف پرته ، کټ مټ، په بشپړ ډول راوړل شوي دي .
زه ښاغلي څېړندوی محمد نبي صلاحي صاحب ته کوروداني وايم ،چې په مازې خبره يې، د دې ټولګې دچاپ په برخه کې، د زړه له اخلاصه منده وکړه او د ښاغلي ملهوتره په استازولۍ هم ترې ډېره مننه کوم، ځکه چې دا ټولګه د صلاحي صاحب په مرسته ، د چاپ تر بريده ورسېده او اوس ستاسو په لاسو کې ده . همدا راز ، دافغانستان قلم ټولنې هم . ډېر مننندوی يم چې، د دې ټولګې د چاپ لګښت يې پر غاړه واخيست، دوی ته سرلوړي او نېکمرغي

غواړم . په پای کې دې ستاسو هم کور اباد وي چې ،د دې
تولګې کیسې لولئ او مطالعه کوئ یې .

په درناوي
رفیع الله نیازی
کابل – احمدشاه بابا مینه
۶/۱۰/۱۳۹۱

# شوم ګیدړ

په پخوا زمانه کې یو ښکاري د ښکار لپاره یوه ځنګله ته تللی و ، په ځنګله کې یې یو وحشي میلو ولیده ، میلو ډېر چاغ ،سورب او تک تور و ، چې په لیدو یې د ښکاري غوني ځیږ ځیږ شول .
ښکاري له خپلې ملا نه غشی او لینده راپرانستل او یو غشی یې په لینده کې کېښود.
د ښکاري په نښه ویشتلو کې ډېره پوخ وه، د غشي له وار سره یې میلو وویشته او میلو ښکته پر ځمکه راولوېد، پړتکې یې ووهلې، خو مړ نه شو . میلو په ښکاري پسې ورمنده کړه او هغه یې وواژه . میلو ډېر سخت زخمي شوی و او څه وخت وروسته هغه هم مړ شو .

څو ساعته وروسته یو خوار ډنګر حریص ګیدړ چې د غوښې بوی پرې لګېدلی و د بوی په لټه ه د مړ میلو خواته راورسېد. ګیدړ چې ولیدل یو غټ چاغ وحشي میلو مړ پروت دی نو ډېرخوشحاله شو. ګیدړ په دې فکر چې بل څوک رانشي او د میلو غوښه ورنه ونه خوري، نو پرته له دې چې اخوا دېخوا وګوري ورمنډه یې کړه او د مړ میلو د وجود په هغه برخه یې خپل غاښونه ښخ کړل له کوم ځای نه چې وینې بهېدې .
ګیدړ دا فکر وکړ، چې اوس د میلو د وجود له بلې برخې لومړی پوستکی پرې کوي او بیا یې غوښه خوري، نو دا ښه ده ،چې همدغه زخمي ځای یې وخوري ،ځکه چې تیار یې پوستکی سوری شوی او غوښه شکول یې هم اسان دي .
په ډېره خوشحالۍ یې په خوند سره د میلو پر هغه ځای خوله ولګوله چې وینې ترې بهېدې ، خو له غاښونو لګولو سره په زخمي ځای کې د ښښتي غشي تېره سر چې د میلو په وجود کې لاهم بند و د ګیدړ له ژبې پورې راورې او بیا یې د خولې له بلې غاړې راووت، ګیدړ له سخته درده رمباړې او پړتکې وهلې، خو د میلو له مړي نه یې ځان خلاص نشو کړای .

رښتیا یې ویلي دي، چې حرص سړی ړوند او کوڼ کړي !

# ښکاري او چنچڼه

یو وخت یو بزګر په خپل پټي کې شولې کرلې وې، څه وخت چې شولې لویې شوې او وړې یې ونیول،نو کروندګر به د خپل تک شین فصل په لیدو ډېر خوشحاله شو . څو ورځې وروسته د شولو ښېرازه فصل طلایي او زېړبخن شو . په وړ و کې د وریژو دانې وشوې . دانې چې پخېدو ته نژدې شوې، نو بزګر پخپل پټي کې دوه غټ غټ سوري ولیدل .

بزګر پوه شو، چې دا سوری نه بلکې د مږکانو کور دی . هغه په دې هم خبر و ،چې مږکان د فصل لوی دوښمنان دي او ډېر فصل خپلو سوړو ته ورننباسي .

بله ورځ بزګر د مږکانو نیولو یو تلک راوړ او د مږکانو سوړې ته نژدې یې ورکې د یوې مېوې دانه ونښلوله او هلته یې کېښود، یعنې مږکانو ته یې تلک کېښود او پخپله ترې نه بېرته کورته لاړه .

په دې وخت کې د چنچڼو یو سیل د وریژو خوړولو لپاره د شولو همدغه پټي ته راورسېد. په دغوچنچڼو کې یوې چنچڼي ولیدل ، چې په یو تلک کې دانه ایښودل شوې بیخي تیار پروت دی او یو مږک هم ورو ورو د تلک د دانې خوړلو لپاره د تلک په لور روان دی . .

چنچڼه په ژر والوته، د تلک دانه یې په ټونګو ټونګو ووهله ،چې یو دم پرې تلک راخلاص شو، مږک پکې له نښتلو بچ شو،په منډه له هغه ځایه وتښتېده او مرغۍ هم والوته .

دشولو تیار پوخ فصل د چنچڼو هم ډېر خوښېږي او د شولو په وخت کې بزګران د چنچڼو سیل د تباهۍ علامه ګڼي .

ښکاریان هم دهمدغې ورځې په تمه وي، چې په شولو کې مرغۍ ووینې، نو د بزګر له اجازې پرته د هغوی په پټیو کې جالونه

وغوړوي او دامونه هم ږدي او ځيني ښکاريان يې خو دباروتو په ټوپکو هم ولي . يوه ورځ يو ښکاري په يوه پټي کې د مرغيو نيولو جال وغوړوه، چې چنچڼې ونيسي .
ورځ تېره شوه مازيګر ته د چنچڼو يو سيل راغی او د شولو په فصل کې کېناست . چنچڼې خبرې نه وې ، چې په دې پټي کې يو ښکاري جال غوړولی، ټولې چينچڼې په جال کې ونښتې . چنچڼو ټوله شپه له جال نه د وتو ډېرې هڅې وکړې ، خو عبث . له لمر خاته نه مخکې په شين سهار کې مرېک له خپلې سوړې راووت ،ګوري چې بيخي ډېرې چنچڼې په جال کې نښتي دي .
د چنچڼو په بد حال ډېر وځورېده . مرېک له لږ سوچ او فکر نه وروسته پرته له دې چې وخت ضايع کړي، پخپلو تېرو تېرو غاښونو د جال د مزو پرې کول پيل کړل .
ډېره خواري يې وکړه ، زښت ډېر تارونه يې پرې کړل ، يو مزی او څو نري نري تارونه لا پاتې وو، چې ښکاري له لرې له يوه غټ کوتک سره راروان و .
چنچڼو هم ښکاري له لرې وليد او په بيړه يې له جال نه د تېښتې او الوتلو کوښښ وکړ . ښکار ي چې څومره رانژدې کېده، مرغۍ وارخطا کېدې ، له ډېرې وېرې او وارخطايی نه د جال وروستی مزی چنچڼو په شريک زور سره وشکوه، چنچڼې له جال سره والوتې او ښکاري همداسې تش لاس پاتې شو.

نوهوښياران وايي ،چې ته زما دارو او زه ستا دارو!

# پوهه که په لاس ورشي د احمق

په یوه کلي کې درې دوستان اوسېدل، دوی یو له بل سره په خپلو کې شرط وتړه چې هر یو به یو اوچت علم زده کوي .
ټولو هوکړه او درې واړه د علم د حاصلولو په تکل اوو کالو لپاره بېلابېلو سیمو ته له کوره ووتل او په لرې لرې سیمو کې یې د علمونو د حاصلولو هڅې پیل کړې .
تر شپږو کالو پورې دوی هغسې علم چې دوی پرې شرط تړلی و تر لاسه نشو کړای . بالاخر دوی درې واړو دیوه لوی عالم په کور کې د اوبو راوړل وظیفه وموندله .
هر ه ورځ به یې ددغه عالم د کورنی لپاره له لرې سیند نه اوبه راوړلې او ځای به یې پاکوه. دغه یوه عالم د ماتو شوو هډوکو یو ډاکټر و، یوه ورځ ددغه عالم یو خادم راپاسېده او هغه عالم یې وواژه، له مرګ وروسته یې د هغه عالم د پټې پوهې کتاب غلاکړ او د هډوکو د نښلولو ټوله طریقه یې ترې نه زده کړه .
دوهم دوست چې تر دې دمه یې کومه پوهه تر لاسه نکړی شوه، نو هغه د هډوکو له پاسه د غوښې شنې کولو او پرې باندې د پوستکي اچولو د یو ډېر لوی او تکړه ډاکټر په کور کې د ماشومانو د روزنې او پالنې نوکري بیاموندہ . یوه ورځ هغه ډاکټر کوم بل هیواد ته تللی و، خادم د هغه له معاینه خانې نه پر هډوکو باندې د غوښې او پوستکي نښلولو پوهه پټه کړه او له هغه ځایه وتښتېده.
دریېم دوست یې هم د یوه ښه علم په حاصلولو کې ناکام شو، د شپږ نیمو کالو له ناکامو هلو ځلو نه وروسته هغه بېرته خپل کور

ته روان و،په لاره کې پر يوه ځنګله برابر شو، نوپه ځنګله کې يې يو داسې بزرګ وليد، چې د خپلې مراقبې او ديني پوهې په برکت يې د مړو ژوندي کولو پوهه لرله .
دغه دريم دوست د يوې ونې شاته پټ و،بزرګ د يوې کونډې ښځې د درې کلن زوی، چې مار چيچلی و په بې حرکته وجود کې ساه پوه کړه ، نو دريم دوست د هغه عالم ټول چلونه وليدل او څه چې هغه ويل هغه يې هم واورېدل او ياده يې کړه .
اووه کاله تېرشول درې واړه دوستان پر ټاکلي وخت د ځنګله يوه ټاکلي ځای ته په رسېدو له يو بل سره مخامخ شول .
دوی درې واړه يو ځای له خپل خپل هنرو فن سره کلي ته بېرته روان وو او غوښتل يې چې درې واړه په ځنګله کې د خپل خپل هنر او پوهه يو بل ته وښيي .
لومړي دوست له ځنګله څخه د بېلابېلو وحشي ځناورو هډوکي راټول کړل او د يو وحشي ځناور بدن يې له هډوکو نه جوړ کړ .
دوهم دوست له هډوکو نه د جوړشوي ځناور پر بدن باندې د بېلابېلو وحشي ځناورو غوښه ونښلوله او بيا يې ورباندې د پړانګ پوستکی جوړ کړ .
دريم دوست د خپلې پوهې په اساس په دغه جوړ شوي پړانګ کې ساه پوه کړه ،د ساه له پوه کېدو سره پړانګ حرکت وکړ، په يو ګوزار يې دا درې واړه دوستان ښکته پر زمکه راوپرزول، دانګې دانګې يې کړل او ويې خوړل .

نو ځکه هوښياران وايي ، چې د ناپوه په لاس کې علم د ځان او ټولنې په تباهۍ تماميږي !

# کارغه

یوه ورځ یو کارغه له ځنګله نه دباندې ډېر لرې یوه کلي ته والوت . په کلي کې اخوا دېخوا ښه وګرځېد اخر یې یوه زړه سپین سرې ښځه ولیده چې د غرمې ډوډۍ یې خوړله .
کارغه د سپین سرې ښځې په خواکې کیناست او کاغ کاغ یې شروع کړل . دسپین سرې ښځې وربانديې زړه وسوځېد، نیمه ډوډۍ یې ورته واچوله .
کارغه ډوډۍ په مښوکه کې جګه کړه او لاړ بېرته ځنګله پلو والوته . ځنګله ته په رسېدو کارغه د یوې دنګې ونې پر یوه څانګه کېناست او له لرې دمې نه وروسته یې د ډوډۍ خوړلو نیت وکړ .
کارغه ډوډۍ خوړله چې په دې کې یوه ګیدړه په هغه لاره تېرېده ، ګیدړه ډېره وږې هم وه ، هغې چې د کارغه په لاس کې یو خوراکي شی ولیدو نو خولې یې ورته اوبرېښودې او همالته ایساره شوه .
څو ځله یې پورته وکتل چې کارغه د ډوډۍ په خوړلو پیل کړی او که نه . کارغه لا د ډوډۍ په خوراک لاس نه و پورې کړی، چې ګیدړې له مکره اوښکې هم تویې کړې، چې ګوندې کارغه پرې ورحمېږي او څه ناڅه هغې ته هم ورکړي . هغې ډېر اخوا دېخوا وکړل، خو هېڅ چل هم ګیدړې ته کومه ګټه ونه رسوله، نو هغې کارغه ته وویل : کارغه ماما ته څومره ښکلی یې، ستا تکې توري سترګې، تک تور بانه او په الوتو کې له بازه هم باتور یې .

کارغه د ګیدړې په خبرو کوم غبرګون ونښود . ګیدړه پدې وپوهېده ،چې کارغه ډېر ژر ډوډۍ خوري او هغې ته څه نه ورکوي . ګیدړې له لږ سوچ نه وروسته دکارغه د غوړه مالۍ او چاپلوسۍ نوې طریقه ومونده .
هغې وویل : کارغه ماما ما د سیند شړهار اورېدلی، دبانس دشپېلۍ غږ مې اورېدلی، دتورانۍ سندره مې اورېدلې، د ښارو چغار مې اورېدلی، د چنچڼو چغهار مې اورېدلی او د بورا بړهار مې اورېدلی دی ، خوستا په شان خوږ غږ، خوږه غاړه او خوږ اهنګ له تا پرته په بل هېڅ چا کې هم نشته .
ستا دیوې نغمې په اورېدو ابشارونه بهېدل بندکړي، دطاووس کوکې بندې شي ان تر دې چې د لارویانو د درستې ورځې ستوماني ختمه شي، زه ډېره ستومانه شوې یم،که ته راته بس خپله ایکې یوه خوږه سندره ووایې، نو د کلونو کلونو ستوماني به مې لرې شي .
کارغه چې د ځان دومره صفتونه واورېدل، نو هر څه ترې نه هېر شول، زر زر یې کاغ کاغ شروع کړل . د کارغه له خولې پرانستلو سره دخولې ډوډۍ یې له خولې راولوېده ، ګیدړې زمکې ته له رسېدو نه مخکې توپ کړ، په هوا کې یې هغه ډوډۍ ونیوله او له ستونې یې تېره کړه .

نو ښه وایي، چې ریښتینی دوست ، د دوست غوړه مالي نه بلکې د هغه د عیبونو هنداره وي !

# تنکی نولی

په پخوا زمانوکي په یوه کوچني کلي کې یو بزګر له خپلې ښځې او کوچني ماشوم زوی سره اوسېدل . ښځې او مېړه له خپل زوی سره ډېره مینه درلوده .
یو ماښام چې بزګز د خپلو پټیو له لو نه ورسته بېرته راستون شو، نویي په یو ځای کې په لاره کې د یوه شي له پاسه ناست یو کوچنی نولی ولید .
دغه نولی ډېر زیات ښایسته او جالب و، خړ خړ وېښتان، دستورو په شان ځلېدونکي سترګې او واړه واړه بریتونه یې لرل، ددغې صحنې په لیدو د بزګر د درستې ورځې د یوې او لو ستوماني ورکه شوه .
بزګر په دمه دمه د نولي خواته ورغی او په ډېر احتیاط یې هغه له زمکې راپورته کړ، نولی ډېر نازک او پوست و، بزګر نولی خپل کور ته یوړو او خپل ټبر ته یې وویل : هه دا واخله ، بل زوی مې درته راوړی دی، دخپل اولاد په شان به یې ساتې، زموږ. دواړه زامن به سره په ګډه لوبې کوي .
ښځې هم چې وړوکی تنکی پوست موست نولی ولید، سترګې یې وځلېدې، دخپل مېړه پیشنهاد یې ډېر خوښ شو ، هغې د خپل سکه زوی په څېر د نولي روزنه هم شروع کړه .
یوه ورځ د بزګر ښځه د کوم کار لپاه له کوره لرې تله ، له وتو وړاندې یې خپل مېړه ته وویل : ګوره زمونږ. زوی لا خپل خیال پخپله نشي ساتلی، دا نولی لږ. شیطان دی، زه دباندې روانه یم ، نو پام ساته چې زوی ته موکوم ضرر ورنه رسوي .

مېږه د ښځې خبره واورېده ، خو هغه په نولي هم ډېر مين و، په نولي يې پوره يقين او اعتماد لرلو، مېږه هم لږ وروسته د کوم کار لپاره له کوره ووت .
دوی چې له کوره ووتل ، نو په همدغه وخت کې يو تک تور زهرجن پرشېدونکی مار هلته راښکاره شو، مار په پرشهار او د ژبې په اوږده ويستلو ورو ورو د ويده ماشوم د زانګو پلو روان و.
نولي چې دومره غټ مار وليد، بې له ډاره يې پرې چپاوونه وکړل، له مرغندۍ نه يې ونيو، مار ډېر تاوراتاو شو، خو دنولي له پنجو نه يې ځان خلاص نشو کړی، اخر نولي مار ټوټې ټوټې کړ .
نولی هم ژوبل شوی و، په وينو ککړ د کور په درشل کې ودرېد،چې بل کوم دوښمن رانشي .
په دې کې د بزګر ماندينه له کاره بېرته راغله . هغې چې د نولي خوله په وينو لړلې او ککړه وليده، نو ګومان يې وکړ، چې نولي د هغې زوی وژلی دی، هغې هم له هغه ځايه يوه تيږه راپورته کړه او نولی يې په سر سر ښه وټکوه، نولی پر زمکه بې خوده پروت او مړ شو .
ښځه هم هلته په درشل کې په وير او انګولا پرېوته،چې په دغه وخت کې بزګر هم له کاره بېرته راورسېد .
کله چې مېږه او ښځه دواړه کور ته دننه شول ، نو ګوري چې زوی يې په ډېر ژور خوب ويده پروت دی او د زانګو په خوا کې د مار شيږ ټوټې پرتې دي .
ښځه پخپلو کړو ډېره پښېمانه شوه او د خپل وفادار بچوړي لپاره يې په چغو چغو وژړل .

نو وايي کنه چې : له سوچ او فکر پرته کړی کار ډېری وختونه په زيان تماميږي .

# اړی مار خر

په پخوا زمانوکې په یوه کلي کې یو سوداګر اوسېده، هغه یو خر درلوده، سوداګر به هره ورځ سهار وختي خپله سود سودا په یوه خورجین کې واچوله ، پر خره به یې بار کړه، لرې لرې پرتو کلیو ته به یې د خرڅولو لپاره وړله .
چې هر څه به یې خرڅ کړل نو مازیګر ته به یې کور پلو مخه کړه، په لاره کې به یې دخپلو ماشومانو او ښځې لپاره څه مېوې او شیریني واخستې او د خره لپاره به یې شنه واښه هم وپېرودل او کورته به راورسېد . ښه د خوشحالی ژوند یې روان و .
ورځې شپې تېرېدې، په هغو کلیو کې چې سوداګر به ورته ورته ځینې نورو کسانو خپل دوکانونه جوړ کړل، چې ورسره د سوداګر تجارت هم خراب شو، نو هغه مجبور شو ،چې د خپلې سودا خرڅولو لپاره کوم نوی کلی ومومي .
دسوداګر له کلي نه لرې لري د بهیدونکي سیند نه پوري غاړه یو کلی و ،چې هېڅ دوکان پکې نه و، سوداګر هم همدغه کلي ته د سودا وړلو نیت وکړ .
سوداګر په بله ورځ لکه د نورو ورځو په شان راز راز شیان په خورجین کې خوندي کړل، کته یې پر خره بار کړه او دخپلې غرمې له ډوډۍ سره لښته په لاس له کوره ووت .

چې سیند ته ورسېده، خره پښې وخرلې او اوبو ته کوز نشو . سوداګر په ډېرو خوارو زارو او منتونو خر سیند ته ورکوز کړ، خو چې دسیند نیمایي ته ورسېدل،خر لټ شو او همالته ودرېد . د سوداګر ډېره سودا اوبو لمده خیشته کړه . خره ته یې ډېر خواستونه وکړل او بالاخره خر ناوخته بل کلي ته ورسېد .
دکلي خلکو په روڼ تندي لامده خیشته شیان هم واخستل . سوداګر په لږ وخت کې له سودا خرڅولو وزګار شو او بېرته خپل کلي ته راغی .
په دغه کلي خلکو ډېره اړتیا ګوړې ،بورې او مالګې ته لرله . سوداګر به د خلکو د اړتیا وړ شیانو سره هره ورځ چې سیند ته ورسېد، نو خر به ناغیړي شروع کړه او په ډېرو خوارو به مخکې ته ، چې د خره له دې کارسره به د سوداګر ډېر مال خراب هم شو ، خو چې ماسختن به بېرته کورته راغی ، نو خوراک به یې دوه چنده غوښته، سوداګر چې تنګ شو تصمیم یې ونیو،چې په یوه ورځ کې به فقط یو شی د خرڅول لپاره وړي .
دا ځل هغه یواځې مالګه پر خره بار کړه، خو چې خر سیند ته ورسېد، په منځ سیند کې کېناست، په لږ وخت کې مالګه په اوبو کې ویلې شوه، د مالګې له ویلې کېدو سره خر جګ شو او روان شو،سوداګر بېرته د خره مخ کور پلو راوګرځوه او خپه دلګیر بېرته کورته راغی .
په بله ورځ یې بوره پر خره بارکړه، خر بیا په منځ سیند کې ودرېد او کېناست ، پر خره بار ټوله بوره په اوبو کې اوبه شوه . سوداګر خوار بیا بېرته کلی ته خفه راغی او خره د خپل بار د کمولو دا ښه طریقه زده کړه .
سوداګر هم ناپوه نه و، له څو ورځو انتظار وروسته هغه دخرڅ سودا بدله کړه او ټوکران یې پر خره بار کړل . دا ځل چې خر سیند ته ورسېد بیا د سیند په منځ کې کېناست .

نو بار ښه دروند شو په دغه ډول په اوبو کې پر خره بار نور هم دروند شو،خر جګ شو او په منډه منډه يې کلی ته بار ورساوه او سوداګر نوکران ژر ژر خرڅ کړل .

په بله ورځ يې پر خره مالوچ بار کړل، سيند ته په رسېدو د خره د پخواني عمل سره دا بار هم وربانديې ښه دروند شو، خر بيا له درندوالي مجبور شو، چې بار ژر ژر کلي ته ورسوي .

 څو ورځې، چې سوداګر دغسې شيان پر خره بار کړل، نو د خره ماغزه بېرته سم شول او عقل يې سر ته راغی،نو بيا يې هېڅکله هم په سيند کې د کېناستلو يا پښې خرلو ته زړه ښه نه کړ .

نو وايي،چې له ښه سره ښه او له بدو سره بد ښکار دي !

# احمق دوست

په یوه لرې هیواد کې یو پاچا و ، هغه ډېر عجیبه فطرت درلود، په هر کار پسې چې به یې مخه وکړه،نو تر میاشتو به یې هم هغه کار کاوه .
یو ځل یې پخپله مانۍ کې د مرزانو لپاره د پنجرو شوق پیدا شو ، په مانۍ کې هر لور ته پنجرې پنجرې شوې، یو ځل یې د خټکو خوړلو شوګند وکړ، تر درېو میاشتو پورې یې پرته له خټکیو بل شی خولې ته نژدې نکړ .
البته د هغه په دربار کې یو څو تنه د ډېرې لوړې سویې مشاورین هم وو، یوه ورځ په خپله مانۍ کې د خورما دیوې ونې لاندې ناست و، دخورما ونې ته یې پورته کتل، چې هلته یوه بیزو ختلې او خورما خوري .
پاچا وزیرانو ته امر وکړ، هر څوک چې ژر ژر ونې ته وخېژي او دده لپاره خورما راوشکوي، دی به یې صدراعظم وټاکي .
وزیرانو او مشاورینو د خورما ونې ته دختلو لپاره ورمنډې کړې، یو بل یې راښکلو، چې په دې کې بیزو وډاره شوه، خورما یې له لاسه راپرېوته او دپاچا په غېږ کې ولوېده . پاچا خوشحاله شو او بیزو یې د خپل صدراعظم په توګه اعلانه کړه .
دا بیزو له نورو بیزوګانو جلاوه ، د انسانانو په څېر خبرې یې هم کولای شوې، پاچا بیزو راونیوله او د صدر اعظم اعزاز او احترام یې ورته ورکړ.
بیزو به تل له پاچا سره وه او لکه د توکمار د هغه زړه به یې خوشحالولو، پاچا به هم د بیزو له موجودیت پرته کوم کار نه کاوه

د بیزو د بېلابېلو حرکاتو او پېښو نخرو په لیدو به خوشحالېده او هر چاته به یې د هغې کیسې کولې،ورو ورو د پاچا او شادي ترمنځ ډېره پخه دوستي شوه .
یو ماسپخین پاچا په خپله خونه کې په خوارږه خوب ویده و، د پاچا زړه ته نژدې بیزو یو پکی په لاس د پاچا د کټ خوا کې ناسته پکی ورته وهي.
پاچا د اوړي په سخته ګرمۍ کې د ببوزي په یخ باد کې د خوبونو په دنیا ورګډ خراری یې کاوه .
په دې کې نابېره یو مچ راغی او د پاچا په لاس کېناست، بیزو د خپل لاس په خوزولو د پاچا له لاسه مچ والوزوه، مچ بیا راغی او د پاچا پر مخ کېناست ، بیزو بیا مچ والوزوه، مچ څو ځله راغی او هر وار به بیزو وشړه، د پاچا خوب خراب شو، د هغه خره هر بند شو، یو دوه ځله یې ټوخی هم وکړ، چې دا د بیزو لپاره یوه اشاره وه ،چې د پاچا سلامت خوب خراب شوی دی .
اخر چې بیزو له مچ نه ډېره تنګه شوه او له پاچا لرې کېده نه ، نو بیزو ورته اخطار ورکړ ، چې مچه دادې اخري وار دی، که بیا راغلې نو بې مرګه دې نه پرېږدم .
مچ یو ځل بیا راغی او لاړ سم د پاچا پر پزه کېناست، بیزو د پاچا په ترخ کې پرته توره غلې غوندې راپورته کړه او په پوره زور یې د پاچاپر پزه را خلاصه کړه، د پاچا پزه او سر له نور وجود نه پرې شول، په وینو کې ککړ پاچا لغتې وهلې او مړ شو،چې په دې کې مچ بیا راغی او د پاچا پر پرې شوي سر کېناست .

مشرانو رښتیا ویلي، چې : له احمق دوست نه هوښیار دوښمن ښه وي !

# هوښيارتوب

په يوه ډنډ کې ډېر ژوي (حيوانات) اوسېدل، چې کبان، چونګښې او نور ډېر پکې شامل وو . يوه ورځ ناساپه دري کب نيوونکي په هغه لار تېرېدل، چې په ډنډ کې يې د کبانو سيل وليد .
دهغوی خولې له اوبو ډکې شوې او زړ يې هلته د کبانو نيولو پرېکړه وکړه . د خوراک او سوداګرۍ لپاره د کبانو شمېر ډېر زيات او سود مند و، هغوی د کبانو نيولو له پرېکړې سره بېرته روان شول چې خپل خپل جالونه او د کبانو د ايښودو لپاره بوجۍ راوړي .
د ښکاريانو دغه خبرې يوه حيوان چې هلته غلی ګونګ ولاړ و، واورېدې ، هغه حيوان سمدستي د کبانو خواته ورغی او ټوله کيسه يې ورته وکړه .
ټول مهيان خفه دلګير شول، اوښکې يې په سترګو راروانې وې او اخوا دېخوا سوړو ته ننوتل .
خو دکبانو مشر هغوی ټول يوې جرګې ته راوغوښتل او هلته يې په ګډه د يوه پلان نيولو بندوبست وکړ .
په داسې حال کې چې دوښمن ډېر زورور او چالاکه و او دوی د هغو ی مقابله نه په زور کولای شوه او نه په چل، نو دوی فيصله وکړه ،چې له دې ډنډ څخه ژر ترژره ووځي، دا يې هم وويل ، ناکې چې دکبانو دوستان او ملګري دي که له هغوی نه مرسته وغواړي، چې له ډنډ څخه په وتو او د يو بل خوندي ډنډ په موندلو کې ورسره مرسته وکړي، ښايي چې ناکې ورسره په دې برخه کې مرسته وکړي ،

ناکو د کبانو غوښتنه ومنله ناکي مخکې او د کبانو سيل ورپسې روان شول، ډېر ژر دغه سيل د خطر له سيمې څخه ووت او يو محفوظ ډنډ ته ورسېدل .

بله ورځ چې کب نيوونکي هلته د کبانو نيولو لپاره ورغلل او جالونه يې ډنډته واچول، نو له څو وينه څکونکو ژويو پرته يې پکې بل هېڅ څه ونه موندل .

هوښياران وايي، چې سلا مشوره او له زورور دوښمن څخه تر څه وخته پورې ځان لرې کول هم هوښيارتوب دی !

# ډینګ

په ډېره پخوا زمانه کې په یوه ګور ځنګله کې یو ډېر ارت بېرت او ژور ډنډ و ، دغه ډنډ ته به هره ورځ د ځنګله راز راز وحشي ځناور، کارغان، مارغان، لړمان او بېلابېل ژوي د خپلې تندې ماتولو یا له تودوخې څخه د لږ ارام په خاطر د لمبا لپاره ورتلل .
تېوله ورځ به د وحشي ځناورو او مرغانو شور ماشور جوړ وو، دا ډنډ له بېلابېلو کبانو، چونګښانو،ژورو، چنجیانو او له نورو ژویو او ساکښو نه ډک و .
د ځنګله دغه ډنډن ته به هره ورځ یو ډېر چاپېروس او بدمعاش ډینګ هم ورته ، چې هره ورځ به د ډنډ پر غاړه په یوه پښه ولاړ و. سترګې به یې پټې کړې وې، چې لږې به اوبه وخوځېدې، زر به یې ټونګه ووهله ، پرته له دې چې شخوند ووهي کب به یې ژوندی له ستوني تېر کړ ،په دغه چل به هغه هره ورځ لسګونه کبان وخوړل او بېرته به لاړ .
دکلونو په تېرېدو ډینګ زوړ شو او اوس به تر زیات وخت پورې په یوه پښه نه شو درېدلای، اکثر به وږی پاتې شو، ځکه چې پخوانی انرژي او توندوالی یې نه درلود، نو سوچ یې وکړ، که همدغسې وم نو ډېر ژر به ومرم .
د خپلې ګېډې مړولو لپاره یې ډېر شوم پلان جوړ کړ، یوه ورځ والوت او ولاړ د ډنډ په یوه ګوښه غاړه کې لکه د راحبانو په څېر ډېر غلی کېناست .
په څېره یې د خپګان او غم وریځې خورې وې، کبان، چنګښان او نور حیوانات د هغه په دغه حالت ډېر حیران شول، چې نن یې یو کب هم نه دی نیولی، نو پوښتنه یې تر ې وکړه څه خبره ده چې داسې دلګیر ناست یې او یو کب دې هم نه دی نیولی ؟

ډینګ ورته وویل، چې ما ستاسو د ټولو په اړه یو ډېر بد خبر اورېدلی دی او دا خبر داسې دی، چې ډېر ژر به دا ډنډ په خاورو او لوټو ډک شي، ځکه چې د کلي خلک دلته فصلونه کري، نو ددې ډنډ ټول اوسېدونکي حیوانات به ترخاورو لاندې شي او مړه به شي .
په ډنډ کې ددې خبرې په خپرېدو غوغا شوه، شور ماشور جوړ شو، خو ډینګ د یوه ډېر پوه راهب په څېر په ډېره پسته لهجه وویل، چې زه ستاسو مرسته کولای شم .
زه په نوبت نوبت پر خپله شا تاسو ټول دلته نژدې پروت یوه لوی ډنډته په اسانه رسولای شم، خفه کیږئ مه تاسو خو زما خویندې او وروڼه یئ .
د ډینګ له دې همدردۍ سره په ډنډ کې د مېشتو حیواناتو په زړونو کې د امیده یوه هیله پیداشوه ، هغوی د ډینګ په نیت خبر شول او د هغه خبره یې ومنله .
ډینګ هم ډیل ونکړ، ژر یې درې څلور کبان په مښوکه کې ونیول او والوت، په خوا کې د یوه کمره پر سر کېناست او څلور واړه یې وخوړل، بیا لاړ او څلور پنځه یې نور رابار کړل، هغوی یې هم همالته وخوړل او بیا نور ویده شو .
د ډینګ لپاره د کبانو په خوراک خپله ګېډه مړول اوس څه مشکل کار نه و، همدغه کار اوس هره ورځ روان و ، یوه ورځ ډینګ یو چنګاښ پخپله مښوکه کې بل ډنډ ته د وړلو لپاره تیار کړ، کله چې په هوا کې دوی د هغه کمره خواته ورسېدل، نوچنګاښ له ورایه د خپلو نورو دوستانو او ملګرو هډوکي ولیدل او په هر څه پوه شو.
چنګاښ بې له ځنډه خپل لاسونه د ډینګ له مرۍ راتاو کړل، غاښونه یې د هغه په مرۍ ښخ کړل او ډینګ یې وواژه .

نو وایي ، چې هر څوک د خپلو کړو ثمره مومي !

# لېوه د ګډ په جامه کې

په یوه کلی کې یو شپونکی اوسېده ، هغه به هره ورځ سهار وختي خپلې ګډې بزې د څرولو لپاره له کلي نه لرې یوې ورشو ته بوتلې .

ګډې ، بیزې، ګوډري او ورغومي به څرېدل، تک شنه شنه وابنه به یې خوړل، څینو به د یوې ونې لاندې د ناست شپونکي تر څنګه شخوند واهه او شپونکي به پخپله شپېلی کې خوږې خوږې سندرې ویلې .

چې لمر به تود شو ، نوشپون به دومره توان نه درلود، چې لرې څرېدونکې ګډې او بیزې د ونې خواته راولي .

یو مکار لېوه هم دغلته په دې امید د یوه ګټ شاته ناست و، چې په غرمه کې به شپونکی د ونې تر سیورې لاندې د یخ شمال په لګېدو ویده شي او ده ته به د یوې نیمې ګډې یا بزې د تښتولو چانس په لاس ورشي .

خو شپون هم ډېر ځيرک و، لږ لږ ساعت وروسته به راپورته شو، کوتک به يې پر اوږه او څادر به يې پر سر واچوه او د خپلو ګډو بزو د ساتنې لپاره به چار چاپېره ګرځېده، چې د لېوه هر چل او تکي به ورسره ناکامه شوه .
يوه ورځ چې لېوه د تل په څېر را راون و، نو ګوري، چې دوو قصابانو يوه ګډه حلاله کړې ده ، دهغې پوستکی يې ايستی، يوې خواته يې ايښی او اوس د غوښې په وېش بوخت دي .
لېوه حمله وکړه او په يوه ټوپ يې د ګډ پوستکی وتښتوه، لېوه چې پوستکی خوندي ځای ته ورساوه .
وېې کتل چې پوستکی خو تش دی، غوښه پکې بالکل نشته، نو لېوه خپه دلګير کېناست، پخپل نصيب يې ډېر وژړل، خو له فطرته پيداشوی مکار او فرېبي لېوه غلی کېنناسته، فکر او مغزو ته يې يو چل ورغی.
لېوه دګډي پوستکی واغوست او داسې يې پکې ځان برابر کړ، لکه ګډ چې وي .
بله ورځ لېوه په دغه جامه کې د شپونکي په رمه ورګډ شو، لېوه دا فکر کاوه چې شپون به يې ونه پېژني او دی به د هغه يوه بزه يا ګډه وتښتوي او وبه يې خوري .
که په دې کار کې بريالی شو نو د تل لپاره به يې د خوراک مشکل ختم شي او که وپېژندل شو نو وبه تښتي .
رمې ته په ورننوتو سره ګډو او وزو د يوه نا اشنا ګډ په ليدو سره رمباړې پيل کړې، شپونکی د خپلې رمې په غير طبيعي رويه بيدار شو.
هغه خپله هره ګډه ، وزه ، ګډورې او ورغومې له ورايه پېژندل ، د خطر په احساس ورو غوندې ورپاسېده . له لېوه هم په زيات فکر او فرېب يې تک شنه شنه وابنه په لاس دهرې ګډې او وزې په ملا لاس راښکلو راښکلو ،ورو ورو د لېوه خواته ورسېد.
په يوه ګوزار يې لېوه ښکته راوغورځوه او قابو يې کړ،زر زر يې له ملاپېرې راپرانست او د لېوه له غاړې يې راتاو کړ،چې يې

کلک راتینګ کړ نو بیا یې تر ونې پورې راښکه، ډیرې یو سرریې پخپله ملاپورې وتړه او په بل سر یې لېوه لکه بندي وتړه .

لېوه ژر ژر ونې ته وختته ، له ملا یې د پړي سر پرانست او د ونې له یوې څانګې سره یې کلک وتړه، پړی یې نور هم راکش کړ،چې له دې سره لېوه ښه له زمکې نه پورته په ونه کې ځوړند شو او چغې یې وهلې .
لېوه د خلاصون ډېرې هڅې وکړې، خو عبث وې ، شپونکي لېوه پخپل کوتک څو ځله وواهه او بیا مازیګر شو، شپونکی په خوشحالی خوشحالی له خپلې رمې سره کورته راغی،خو لېوه همالته ځوړند لتې یې وهلې .

نو ځکه هوښیاران وایي، چې له مکارو دوښمنانوسره ډېر احتیاط پکار وي !

# د سرو زرو هګۍ

په یوه کلي کې یوه زړه ښځه اوسېده، هغه ډېره خواریکښه وه، ټوله ورځ به یې د خپل کور کارونه کول. چې له ډوډۍ پخولو به وزګاره شوه، نو لوښي به یې ومینځل او چې دځای ځایګي له جارو کولو به یې لږ فرصت پیداکړ، نو دکور د غړو جامې به یې ومیځلي،خو هغه به هېڅلکه هم په کار نه ستړې کېده .

ددې ښځې په دومره خوارۍ لیدو یوه ښاپېرۍ ډېره خوشحاله شوه هغې زړې ښځې ته یوه داسې برګه چرګه ورکړه، چې هره ورځ به یې یوه د سروزرو هګۍ اچوله ، سپین سرې ښځې به هغه هګۍ په بازار کې خرڅه کړه او د خپل ضرورت هر شی به یې پرې واخستل .

دا سپین سرې ښځه ډېر ژر بډایه او مالداره شوه ، صندقونه یې د وربښمو له جامو ډک شول، دکور لوښي یې اوس دختو جوړ کودي نه بلکې دسرو او سپینو وو .

په خوړو کې یې چرګان، کبان، کوچ ، مستې، غوړي او هر راز شیان شامل شول . دهغې عادتونه هم بدل شول ،پخوا به یې درسته ورځ خواري مزدوري کوله، خو اوس به یې د کټونو لینګي شلولي، ښه غټه کټه ، د نېستۍ ډکه کندوشوله، دهغې حرص هم ورځ په ورځ ډېر شو، اوس به هغې ورځ دسرو زرو هګۍ اچوونکې چرګې په ګېډه په دواړو لاسونو زور کوه چې په یو ځای ډېرې هګۍ واچوي، خو چرګې به هره ورځ دسرو زرو ایکي یوه هګۍ اچوله .

یوه ورځ د زړې ښځې حرص او لالچ د صبر ټول بریدونه مات کړل، هغې چرګه ونیوله او په یوه تېره چاړه یې حلاله کړه، چې

دچرګي په ګېډه کي پرتي تولي هګۍ تري په يو ځل راوباسي، خو چي هغي دچرګي ګېډه وسپړله، هلته يوه هګۍ هم نه وه ، چرګه مړه شوې وه او دزړې ښځي ټول ارمانونه پر ځای پاتي وو، هغي دچرګي په مرګ ډېره ژړا او وير وکړ،خو اوس هېڅ هم نه کېدل .
په رښتيا يې وويلي ، چي : حرص او لالچ د انسان لوی دوښمن دی !

# مېږی او کوتره

يوه ورځ يو مېږی پخپلو سوچونوکي ډوب د يوي ويالي پر غاړه روان و، چي ناساپه يې پښه وخويږېده او په وياله کي ولوېده .
مېږي ډېري پښي وترپولي،چي په څه چل غاړي ته ځان ورسوي،خو اوبه ډېري چټکي رواني وې، مېږی سترۍ ستومانه شو، دومره قوت هم پکي پاتي نشو ،چي لاس قدري پورته کړي او ډوبېدو ته ورنږدي شو .
په دغه وخت کي ناساپه يوه زړه سوانده او مهربانه کوتره په هغه لاره تېرېده، کوتري چي دمېږي حال وليده نو ډېره وردېدله، هغي دمېږي د حوصلي لپاره څو ځله چغي ووهلي ، خو بالاخره مېږي څه ونشو کړای .
کوتري لږ فکر وکړ او په منده هلته نږدي ولاړه، له يوي وني يې يوه پاڼه په خپله مښوکه وشکوله، کوتري هغه پاڼه په مښوکه کي نيولي راوړه او د مېږي په څنګ کي يې په وياله کي وغورځوله . مېږ ورو ورو د وني په پاڼه وخوت او ورو ورو غاړي ته ورسېد.
لږ وخت وروسته مېږی له ويالي نه راووته او له کوتري يې مننه وکړه . لس دولس ورځي لا نه وې تېري شوې چي يوه ورځ مېږی ګوري،چي يو ښکاري لينده راښکلي او کوتره يې په نښنه کړې ده . مېږي ډېر وخت تېر نه کړ، سمدستي د ښکاري په پښه وروختو او مخکي له دې چي ښکاري کوتره وولي ، مېږي، ښکاري په ورانه وچيچه.
ښکاري له درده چيغي کړې، لينده يې له لاسه ولوېدله، کوترې دښکاري چيغه واورېده او ډېر لري والوتله، نو هغي ته ورپه ياد شول چي دا هم د هغه مېږي احسان دی .

نو ځکه خو رحمان بابا وايي، چې :
کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

# د رحيم سخاوت

د اکبر پاچاپه دربار کې نهه داسي کسان وو، چې د نو رتن په نامه يادېدل، يعني نهه ملغلرې . له دغو ملغلرو څني يوه ملغلره عبدالرحيم خان خانان نومېده .
رحيم خان خانان اصلا په خټه پښتون و، پلرونه او نيکونه يې په يوه زمانه کې له پښتونخوا څخه راغلي وو . رحيم د ستر پير او زبرګ کبير په څېر د زاتونو، فرقو او مذاهبو له هر راز فرق او توپير څخه بالا و او دا عقيده يې درلوده، چې انسان بايد له هر چاسره په مينه او محبت او وروروګلوۍ کې ژوند وکړي .
رحيم د ثروت او عياشۍ په ژوند هم عقيده نه لرله ، خو اکبر پاچا ته د خپل يوه ستر وزير دغه هر څه ورمعلوم وو.
ويل کيږي يو ځل د خپلو خدمتګارانو او نوکرانو اردليانو په منځ کې په فيل سپور روان و، چې ناساپه يوه تيږه د هغه پر تندي ولګېده، درحيم تندی زخمي شو او ويني ترې رواني شوې، تيږه وارووںکی يو پنځه لس کلن هلک و، چې درحيم خادمانو سم له واره هغه راونيو .
رحيم په ډېره مينه له هغه هلک نه پوښتنه وکړه : وايه ځوانه تا زه ولې په تيږه وويشتلم ؟
ځلمي ورته وويل : وزير صاحبه ما دغه تيږه د ام په ونه وويشته په خطا کې په تا ولګېده، زه ښښنه غواړم .
رحيم بيا پوښتنه وکړه : تا هغه ونه ولې ويشتله ؟
ځلمي وويل : د ام شکولو لپاره .
رحيم خپلو خدمتګارانو ته وويل ،چې دا هلک خوشي کړئ او وسره يې ځلمي ته پخپل لاس د اشرفو يوه کڅوړه ورکړه ، ټول هک پک اريان وو، چې رحيم ولې دغسې وکړل .

يو خو هغه هلک هغه په تيږه وويشته او زخمي يې کړ او بل خوا رحيم هغه ته جزا هم ورنکړه او جايزه يې هم ورته ورکړه.
بالاخره يوه خادم د همدغې پېښې په اړه له رحيم نه پوښتنه وکړه ، رحيم ځواب ورکړ :
هغه هلک په اصل کې ونه په تيږه ويشته، که هغه تيږه زما پر ځای په ونه لګېدلې وای نو ونې به د تيږې له ګوزار سره سره ځلمي ته مېوه هم ورکړې وای .
نو چې ونه د تيږې له وار سره سره ضرر رسوونکي ته خپل ثمر ورکولای شي يعنې د بل ښېګړه کولای شي، نو زه خو انسان يم ايا دغومره قدر هم نشو کولای .

نو هماغه وو، چې د رحيم سخاوت او مهربانۍ هر يو تن متاثره کړ .

# سپیره سړی

دیوه سړي په اړه دا خبره چار چاپیره مشهوره شوه ،چې هغه ډېر سپیره سړی دی . هر څوک یې چې سهار څېره ووینې ، نو له یوې نه یوې بدې پېښې سره حتمي مخامخیږي .
دا خبره دومره خوله په خوله شوه ،چې ان د هغه هیواد د پاچا غوږونو ته هم ورسېده، پاچا د خلکو په دغه خبره اعتبار نه کاوه ، چې کله پرې خپلو ځینو ملګرو ډېر فشار راوړ، نو پاچا ددې خبرې په اړه دتحقیق پرېکړه وکړه .
پاچا هغه سړی خپلې مانۍ ته راوغوښت، تو له شپه یې په مانۍ کې وساته او ورته یې امر وکړ، چې سبا سهار به همدغه سړی راځي او پاچا به له خوبه راویښوي .
بله ورځ سهار وختي هغه سړي پاچا له خوبه راویښ کړ او پاچا خوشحاله شو .
اتفاق داسې و، چې په هغه ورځ پاچا سلامت ډېر زیات مصروف و او درسته ورځ یې یوه مړۍ ډوډۍ یا نور څه ونه خوړلای شول، مازیګر پاچا پوه شو، چې دخلکو خبره رښتیا ده، ددغه سړي مخ ډېر سپیره دی او که هر څو ک یې سهار وختي ووینې حتما به له مصیبت سره مخامخیږي .
پاچا په خپله پاچاهۍ کې ددغه راز سپیره سړي ژوند دهر چا لپاره خطر وګڼلو، نو ورته یې دمرګ جزا اعلان کړه .
د پاچا یو وزیر ډېر پوه او نېک انسان و، دپاچا د فیصلې په اورېدو ډېر خفه شو، چې یو بې ګناه انسان ته پرته له کوم جرم د مرګ سزا ورکول کیږي .

هغه د پاچا د پوهولو هڅه وکړه او ورته یې وویل : پاچا سلامته د سر ببښنه غواړم، خو تاسو یوه بې ګناه انسان ته د مرګ جزا ورکړې ده، په دې کې د هغه څه ګناه ده ؟
مخ او څېره هر څه هغه ته خدای پاک ورکړي دي، زه د خپل سر د ببښنې طالب یم او په ډېره عاجزی له تاسو پوښتنه کوم، هغه سړي هم نن سهار وختي تر هر څه لومړی ستاسو مخ لیدلی و ، تاسو خود هغه د مخ په لیدو ټوله ورځ وږی پاتې شوې ، خو هغه عاجز ته خو ستاسې د څېرې په لیدو د مرګ جزا ورکړل شوه ، نو اوس تاسو فیصله وکړئ، چې څوک څومره سپیره دی .
د وزیر د دلیل په اورېدو پاچا اریان دریان پاتې شو ، ځکه چې هغه خو په دې اړه بالکل فکر هم نه ووکړی .
وزیر وویل : پاچا سلامته د هېڅ چا څېره سپیره نه وي، څېره د الله تعالی له خوا هر چاته ورکړل شوي ، دا هسې د خلکو وهم پرستي او ناسم ګومانونه دي، که تاسو هغه ته د مرګ سزا ورکړه نو له هغه زیاته سپیره څېره به ستاسو ثابته شي ، تاسو دا ناروا مه کوئ، نو د یوه وزیر د عقل او منطق په اساس پاچا د خپلې سهوې په احساس هغه سړی خوشې کړ .

# بغض

دوه تنه د ډېرو لوړو عالمانو او بزرګانو په جامه کې د يوه ښار او ښته من سړي کورته ورغلل، چې څه خير خيرات او ذکات ترېنه تر لاسه کړي .
شته من سړي پدې فکر چې ډېر بزرګان يې کورته ورغلي نو دهغوی يې ډېر زيات خدمت وکړ.
له خوراک څښاک نه وروسته چې يو تن د لمبلو لپاره لاړه، نو شته من سړي دا بل ته وويل : ای د الله پاک خادمه ! زه ستا د ملګري بزرګ له شخصيته ډېر متاثره شوی يم، ډېر لوړ عالم ښکاري .
دا بل بزرګ سړي دومره پراخه سينه نه درلوده، چې د بل صفتونه واوري، خوله يې کږه کړه ويې ويل : عالمان خو دده په ګاونډ کې هم کله نه دي پيدا شوي، ښځي خر دی خر .
شته من سړی غلی شو، کله چې مازيګر شو او دا دوهم سړی د لمبلو لپاره ولاړ، نو شته من سړي دا بل ته وويل ،چې ای لويه بزرګه دا ستا ملګری ډېر پوه او بزرګ ښکاري .
له بغض او کيني نه ډک دغه سړي هم د خپل زړه براس وويست او ويې ويل : ده ته ګوره او بزرګی ته يې ګوره، د خلکو په ډوډيو سورب او پلن شوی تش سنډا دی سنډا .
ماښام شو او د ډوډۍ په وخت کې شته من سړي ديوه مخې ته شنه واښه او دبل مخې ته بوس کېښودل، دواړه نام نهاده بزرګان له قهره تک سره شول، شته من سړي ته يې وويل : صاحبه تا خو زمونږ ډېر سپکاوی کړی، مونږ همدا اوس ستا هر څه ايرې کوو

ښته من سړي په ډېره عاجزۍ وويل، چې درنو ښاغلو تاسو پخپله
يو بل خر او سنډا بللی، ما خوستاسو د وينا سره سم تاسو ته
مناسب ښه ښه خوراک راغوښتی دی .
ېدي کې زما څه ګناه ده، ما خو تاسو دواړه ډېر پوه ، بزرګان او
عالمان ګڼلې ، خو تاسو له خپل اصليت نه خبر کړم .
دشته من د خبرو په اورېدو دواړه مېلمانه ډېر شرمنده او پښېمانه
شول، هغوی پوی شول ،چې په اصل کې هر څوک چې خپل مل
او ملګري ته په ټيټه سترګه ګوري ، پخپله هم ټيټيږي، د خپل
احترام او عزت زياتولو لپاره د خپلو ملګرو او عزيزانو عزت او
احترام لازمي دی، ځکه چې د بغض نتيجه تل خرابه وي .

# دوه پیشوګان

په یوه کلي کې دوه پیشوګان یوې جونګړې ته ورننوتل ، په دغه وخت کې د کور غړي خپلو پټیو ته تللي وو، پیشوګانو د خوراک په تکل ټول کور ولټوه، هر شی یې لټ بالټ کړ او واړوه راواړوه، خو څه شی ورته په لاس ورنغی .

پیشوګان ډېر مایوسه شول ، له کوره وتل ، چې دیو کندو له پاسه یې شکرۍ ولیده.

دپیشو ګانو بریټ ډانده شول ، زر یې ورټوپ کړ او شکرۍ یې ښکته راوغورځوله ، د شکرۍ پوخ یې لرې کړ، دننه یو سپوټي ( ټوکر) کې یوه ډوډۍ نښتي پرته وه . پیشوګان سره په جنګ شول ، اول د خولې جنګ و او ورپسې د لاس خپو، ډوډۍ پر ځای پرته وه او پیشوګانو اسمان په سر اخستی و.

څه وخت وروسته دواړه ستړي ستومانه شول، یو بل ته یې د لاس اچولو قدر توان نه لره، چې لږ دمه شول یو بل ته یې وکتل ، یوې پیشو بلې ته وویل : " مونږ ولې سره جنګېږ.ي یو بل مو خنې خنې ( ټپي) کړل، ولې دا ډوډۍ په خپلوکې ونه ویشو " . بلې ځواب ورکړ : " وېش به زه کوم ". هغې بلې پیشو سمدستي وویل : " نه ! زه له تانه مشر یم ، دا کار به زه کوم ". یو پیشو هم پر بل اعتماد نه لره، هر یوې فکر کاوه ، چې دا بله به ډېره برخه واخلي .

د ډېر وخت له تکرار نه وروسته دواړو د یو دربیم ګړي وېش ته خپل چمتو والی وښود، پیشوګانو د ډوډۍ شکرۍ پورته کړه او دیوه بې طرفه قاضي یعنې دربیم ګړي په تکل ووتل .

په لاره کې دوی ته یوه شادي ( بیزو) په مخه ورغله ، دغې غلې شادي چې د پیشوګانو په لاس کې شکرۍ ولیده نو لاړې یې توی شوې، هغې له پیشوګانو نه پوښتنه وکړ، چې ولې دومره پرېشانهِ یاست ؟ پیشوګانو ورته د ډوډۍ کیسه بیان کړه ، شادي بې له ځنډه د خپلې منځګړتیا پېشکش وکړ.

پیشوګانو د شادي وړاندیز ومانه او هغه ته یې د قاضي وظیفه وسپارله . دپوره انصاف او قضاوت په خاطر شادي له یو دوکان څخه تله راپېته کړه او تله په لاس د دواړو پیشوګانو په منځ کي کېښاسته .
پیشوګانو په ډېر احتیاط له شکرې نه ډوډۍ راوویسته او شادي ته یې ورکړه، شادي زر زر ډوډۍ په دوه برخو کي غوسه کړه،خو په دې ډول چي یوه برخه له بلې زیاته یعنې درنه وه . شادي د ډوډۍ یوه برخه د تلې په یوه خوا او بله برخه د تلې په بلې خوا کي کېښوده او ویې جوکله ( وتلله) .
درنه خوا ښکته او سپکه جګه شوه ، شادي له درنې برخې نه یوه نوړۍ راغوسه کړه چي دواړه خواوې برابرې شي او پخپله خوله کي یې واچوله، اوس نو ګوري چي سپکه خوا درنه شوې او درنه خوا پورته ختلې یعنې سپکه شوې ده .
شادي دا ځل د توازن په خاطر له درنې شوې برخې نه یوه غټه نوړۍ واخسته او په خپله خوله کي یې واچوله . شادي په همدې دې ډول کله له یوې او کله له بلې غاړې نه نوړۍ اخیستې او په خپله خوله کي یې اچولې، چي له دې کار سره یې بلاخره ډوډۍ تمامه کړه .
پیشوګانو د وروستۍ نوړۍ اخیستلو لپاره لاسونه د تلې تلې ته ور وغزول، خو شادي زر هغه وروستۍ نوړۍ هم پورته کړه او ویې ویل : " دا زما د انصاف او قضاوت اجرت دی او زر یې خولې ته واچوله" .
پیشوګان ناامیده همدغسې پاتې شول او شادي ترېنه لاړه .

نو هوښیاران وایي : هغه څوک چي په خپلو کي اتفاق نه لري د نورو له خوا استثماریږي !

# زمری او سویان

زمری له خوښۍ وغړمبېده، هغه هم خبر و چې اوس يې زور کم شوی دی او د ځناورو هم تعداد ډېر کم شوی دی ، که د ورځې يوښکار هم په ارام لاس ته ورشي بده به نه وي .
خو هغه بيا هم نورو ځناورو ته ګواښ وکړ، چې که کومه ورځ څوک پخپل نوبت رانغی نو زه به تاسو ټول ووژنم .
ځناورو د زمري پېشنهاد ومنه، اوس به هره ورځ يو ځناور پخپل نوبت د زمري د خوراک لپاره د هغه سمڅې ته ورته او زمري به پرته له کومې خوارۍ په هغه ځان مړوه .
يوه ورځ د سوی نوبت راغی، سوی په خپل نوبت کې زمري ته ډېر ناوخته ورسېده .
د زمري له لوږې کولمې خولې ته ورغلې وې ، چې په دومره لوږه کې يې د سوی په څېر يو کوچنی ځناور وليد، له قهره ريت پيت شو، د ناوخته رسېدو علت يې وپوښته، سوی ځواب ورکړ ، چې خدای دې زمونږ پاچا سلامت ساتي، په لاره کې يوه بل زمري نيولی وم او راته يې وويل ، چې هغه د ځنګل پاچا دی او ما بايد وخوري، خو ما ورته وويل چې زمونږ پاچا په سمڅه کې اوسي ، که ته ما خورې نو اول له هغه اجازه واخله ، هغه زمري ستاسې د مبارک حيثيت په خلاف بدې ردې وويلې، چې دی دې له مانه ځان خلاص کړي زه ورسره ګورم .
دلته پخوا زمانه کې په يوه ځنګله کې يو زمری اوسېده، هغه ډېر زيات ظالم و، هره ورځ به يې دځنګله ځناور ډېر زيات وهل ، کنځل به يې او زښت ډېر به يې وژل .
هغه زمري دا ظلم د دې لپاره کاوه چې د ځنګله ځناور بايد تل له هغه وډار شي او هېڅکله يې مقابله ونکړي .

د زمري خوراک دومره زيات نه و ، هغه به له وژل شوي ځناور ځني فقط يو يا دوه اندامه خوړل او نور به يې پرېښودل ،چې هغه به بيا د ځنګل لېوانو، ړانګانو، شرمخانو، ګيدړانو، ټپوسانو، ګنجيو( مرداره خوړونکو مارغانو) او نورو خوړل .
ورو ورو په ځنګله کې د ځناورو شمېر کم شو، پاتې واړه ځناور ډېر وېرېدلي او تل به په وير او ژړا وو.
يوه ورځ دوی يوه جرګه وکړه او داسې پرېکړه يې وکړه ،چې زمري ته په جرګه ورشي او ورته ننواتې وکړي، چې دوی دې هېڅ بې هېڅه نه وژني .
خو زمري ترې پوښتنه وکړه، چې که زه تاسې ونه وژنم نو خورم به څه ؟ زما هره ورځ يو ځناور د خوراک لپاره لازمي پکار دی . ځناورو ورته ځواب ورکړ: پاچا سلامته ! ته ولې په دې عمر دومره کړاوکوې مونږ به په نوبت سره هره ورځ يو ځناور ستا د لوږې سړولو لپاره تاته ستا سمڅې ته درلېږو .
د زمري دغه پيشنهاد ډېر خوښ شو،چې کور ته به يې ښکار پخپله راځي، نو که تاسو مناسبه ګڼئ له هغه بل زمري سره ووينئ ګنې هره ورځ به ستاسو خواړه د هغه د ګېډې نوړی شي .
له قهره ليوني شوي زمري سوی له ځان سره کړه او له زمري سره د مقابلې لپاره روان شو.
په لاره کې يوه کوهي ته په ور رسېدو سوی زمري ته اشاره وکړه ، چې هغه بل زمری په دې کوهي کې پټ شوی دی .
زمري چې کوهي کې ښکته وکتل نو هلته په اوبو کې يې خپله څېره وليده، داسې ګومان يې وکړ چې دا بل زمری دی .
زمري داسې رمباړې وکړې، چې په ټول ځنګله کې ځناور له وېرې ورپېدل .
د زمري غړمبا په کوهي کې هم انګازه وکړه ، زمري فکر وکړ ،چې ولا هغه بل زمری يې د مقابلې لپاره په بشپړ ډول تيار دی .

زمري فکر وکړ چې بله چاره نشته او په هر قسم چې کيږي بايد په کوهي کې د زمري غم وخوړل شي .
له قهره وشنېده ، منډه يې کړه او زر يې کوهي ته ودانګل چې خپل دوښمن له څټه ونيسي او مړ يې کړي .
خو کوهي ته له دننګلو سره زمری د کوهي په ژورو اوبو کې ډوب شو او ومړ .
سوی په ټوپونو ټوپونو دغه زيری نورو ځناورو ته ورسوه، چې په دې ډول د سوی د هوښيارتيا او کامياب پلان له امله د ځنګله پاتې ټول ځناور په امن اوامان کې شول .

هوښياران وايي : هغه څوک چې په عقل کار کوي د هرې بلا مقابله کولی شي .

# خر ماغزه نه لري

په یوه زمانه کې په یوه ځنګله کې یو زمری اوسېده ،چې ډېر زوړ شوی و .
هغه ډېر کمزوری شوی او هغې د هډوکو یو پنډ ګرځېدلی و .
له همدې کبله یې د ګېډې ډکولو لپاره ښکار هم نه شو کولی او اکثر به وږی پاتې شو.
ورځې تېرېدې او زمری له کمزورۍ نرۍ نر وچکی شو، هغه سوچ وکړ که حالات همدغسې روان وي ، نو مرګ یې یقیني دی . له ډېر سوچ او فکر نه وروسته هغه یو پلان جوړ کړ.
هغه یوه ګوه راوغوښته او ورته یې وویل : زما خوږه ملګریه !
زه له تا سره ستا د ذهانت او هوښیارتوب له کبله ډېره مینه کوم او درته ډېر احترام هم لرم .
زه غواړم د ځنګله په چارو کې د سلا مشورې په خاطر تا وزیره وټاکم .
زمري ګوې ته وویل : ته ښه خبره یې چې زه د ځنګله پاچا یم ، نو زما له خوراک څښاک نه بې غمه اوسه یعنې تا به نه خورم ،خو ته به هره ورځ زما د خوراک لپاره یو ځناور راولې .
ګوه دزمري په خبرو شکمنه شوه، خو انکار یې هم نه شو کولای،هغې وویل : پاچا سلامت زه ډېره خوشحاله شوم، چې تاسو زه د دې منصب لپاره غوره کړې یم .
زه ستاسو دا پیشنهاد په سر سترګو قبلوم . زمری ددې خبرې په اورېدو خوشحاله شو .
تر څه وخته پورې له خبرو اترو نه وروسته ګوه لاړه،خو په سوچونو کې پرېوته، د هغې دا وظیفه چې زمري ته به هر ه ورځ یو ځناور د خوراک لپاره وروړي بله ورځ شروع کېدونکې وه .

بله ورځ سهار د زمري د خوراک په غم بګوه سهار وختي له خپلې سمڅې راووتله او په لاره کې يې له يوه خر سره ملاقات وشو .
بګوې چې ښه سورب خر وليد ورته يې وويل : اشنا مبارک شه ! زېرى مي درباندې زمونږ پاچا سلامت ته د خپل مشر وزير په حيث منلی يې .
هغه ماته دغه خبر راکړی، چې تاته يې در ورسوم ، خر ددغه خبر په اورېدو زښت زيات مشوش او په فکرونو ډوب شو .
هغه وويل : نه خورې زه له زمري نه ډېر وېرېږم هغه به ما ووژني او وبه مي خوري ، هغه ما ولې خپل مشر وزير ټاکي؟ زه خو خر يم، د دې کار قابل هم نه يم .
ځيرکي بګوې وخاندل او ويې ويل : ساده ګله خره ته له خپلو صفتونو نه خبر نه يې .
په ښايست او قوت کې ځاری نه لرې ، پاچا سلامت ستاسو د ليدو لپاره ډېر ناقراره دی .
ستا د هوښيارتيا، ساده توب، وفادارۍ او خواريکښ فطرت له کبله يې ته خوښ کړی يې .
په ژوند کې دومره ښه موقه بيا بيا په لاس نه درځي ، زر کوه له ما سره مل شه چې زر د پاچا په دربار حاضر شو ، ستا په ليدو به هغه ډېر خوشحاله شي .
بېچاره خر د بګوې په خبرو وغولېد او ورسره روان شو .
کله چې هغوی د زمري سمڅې ته ورسېدل نو خر له ډاره د سمڅې په خوله کې ودرېد او له وړاندې تګ څخه يې انکار وکړ.
په دې کې بګوې نعره کړه چې پاچا سلامت ! زمونږ مشر وزير ډېر شرمېدونکی دی او ستاسو مخې ته نشي درتلای .
له دې خبرې سره زمری د باندې راووت او ويې ويل : زما داسې شرمېدونکي خلک ډېر خوښېږي ورټوپ يې کړ، چې خر له مرئ ونيسي، خو خر په څلورو شو او د ځان ساتنې لپاره يې په لوړو ژورو ور ودانګل او د سترګو په رپ کې پناه شو .

زمري چې له ډېرې لوږې يې کولمې خولې ته رسېدلې وې بګوې ته وويل : که ته د ځان خير غواړې نو ژر هغه خر راوله ګنې تا وژنم .
بګوې ځواب ورکړ : ما خو خر تر دې ځايه راوستی و،خو تاسو نا ارامي وکړه ، که لږ له ارامه موکار اخستی وی ، نو ښه سورب خر مې درته راوستی و، خير يو ځل بيا به کوښښ وکړم .
بګوه بيا په خره پسې ورغله اوورته يې وويل : ډېر عجيبه شی يې، ته ولې داسې د احمقانو په شان راوغځېدی؟
خره وويل : زه ډېر وېرېدلی وم ، دومره زيات چې ماويل دادی ويې خوړم .
بګوې ورته وويل : ته ناپوه يې که پاچا غوښتلای چې تا ووژني نو له وخته به يې وژلی وای نو په منډه نه شوې بچ کېدلی .
په اصل کې هغه تاته په غوږ کې د ځنګله په اړه ځينې رازونه ويل، هغه دا نه غوښتل چې زه يې هم واورم ، اوس به هغه ستا په اړه څه فکر کوي؟
خير دی ته فکر مه کوه ښښنه به ترې نه وغواړو، ته نه يې خبر چې دمشر وزير دمنصب په موندلو به په ځنګله کې دوهم لوی قوت وګرځې ، هر څوک به درته سره ټيټوي او احترام به دې کوي .
په دې ډول ګېدړې په چل ول خر بيا زمري ته ور وسته، داخل نو زمري په ډېر صبر او ارام پر خره حمله وکړه او خر يې وواژه . بګوه هم په غوښه ډېره مېنه وه ، هغې زمري ته وويل : پاچا سلامته ! د دې دومره غټ کټ او سورب خره له خوړلو نه مخکې که تاسو ولامبئ نو خواړه به ډېر خوند درکړي .
زمري د بګوې پيشنهاد ومانه او زر د لامبلو لپاره لاړ . په دې دوران کې بګوې فکر وکړ، چې د خره د بدن له ټولو څخه ښه غړی يا اندام بايد هغه پخپله وخوري، ځکه چې د دې ښکار په نيولوکې د هغې ونډه له هر چا نه زياته مهمه وه .

لومړی یې د خره سر مات کړ او له سر نه یې ټول مازغه پخپله وخوړل ، څه وخت چې زمری بېرته راغی د سر په لیدو شکمن شو،خوبګوې ورته وویل ، چې د خره سر د حملې په وخت کې مات شوی دی .
زمري له لوږې په خوراک پیل وکړ او له هر څه نه لومړی یې د مازغو د خوړلو په خاطر د خره مات سر ته لاس واچوه ، په ماته کوپړۍ کې مازغه بیخي نه وو.
زمری له قهره ریت پیټ شو، وغړمبېده او ویې ویل : دخره مازغه چېرته دي ؟
بګوې په مسکا ځواب ورکړ : پاچا سلامته خره خو مازغه نه لري .
زمری بیا وغړمبېده او په قهر یې وویل ، چې دا څه خبره کوې خره څنګه ماغزه نه لري ؟
ما ټول عمر د ځنګله د ځناورو د خوراک په وخت تر هر څه لومړی د هغوی ماغزه خوړلي او د خرو ماغزه مې هم خوړلي دي او ته وایې چې ماغزه نه لري .
بګوې په ډېر احترام او درناوي زمري ته وویل : پاچا سلامته خره ماغزه نه لري که خره ماغزه درلودی، نو هغه به دوهم ځل دلته هېڅکله نه وی راغلی!

# فیل او مېږی

د خپل غټ وجود او زیات زور له امله یو فیل ډېر زیات مغروره شوی و .
له ځانه د وړوکو ، کمزورو، نري نروچکو او معصومو بېګناه ځناورو ، ژویو او خوځندو یې هېڅ پروا هم نه کوله .
هر څه چې به یې مخې ته ورغلل د خپلو درنو پښو له لاندې به یې خړیت پړیت کړل .
د ځنګله د تکو شنو ونو څانګې به یې بې خرته له خپلو شونډو سره راښکته کړې او ماتې به یې کړې .
که په ونو بوټو یا ځېلو کې به د اوړي له تودوخې څخه د لږ ارام لپاره ځینو وړو وړو مرغیو، پرپرکو، هورهورکیو، تاروګانو ،تنځرو، مرغ زرینو، ځارانیو چرګانو، طاووس، چرګوړو، سویانو یا به بل داسې کوم کمزوری مرغه یا حیوان ناست و.
فیل به خپله شونډه له اوبو ډکه کړه او د اسمان دتنور په څېر به یې د هغوی له پاسه وشیندلې ، چې له دې سره به ډېر کمزوري ژوي او مرغان مړه شول .
یوه ورځ د مېږیانو یوه ډله د راتلونکي کال لپاره د خپل خوراک څکاک په لټه روان وو .
فیل قصدا د میږیانو دلیکې له پاسه په ډېره بې رحمې ورروخوت او ډېر مېږیان خوران یې مړه کړل .
یو څو دانې مېږیان د خپل ځان ساتنې لپاره د فیل په پښو پورې ونښتل او ورو و روو یې د فیل غټ بدن ته ځان ورساوه .
یو مېږی چې فیل یې په همدغه ورځ ورته مور، پلار، خویندې او ورونه وژلي وو، په ډېره پوهه د فیل د سر په لور روان شو.

دغه مېږی ورو وړو د فیل غوږ ته ورننوت او دننه ډېر نازک ته ځای ته يې ځان ورساوه .
هلته به د مېږي له معمولي حرکت سره فیل داسي حس کوله لکه په زړګونو بمونو چي يې څوک ولي ، سمه د قیامت ورځ يې پرې جوړه کړې وه لکه له اسمانه چي تندرونه رالوېږي داسي رمباړې به يې وهلې .
فیل په ځنګله کي بې اختیاره په منډو سرشو ، کله به يې له يوې ونې سره ډغره ووهله او کله له بلې سره .
څو څو ځله له غټو غټو ونو سره وجنګېده، په ځنګله کي د ځای پر ځای ولاړو ونو کنډو کپرو، ګټانو او ختانو سره هم وجنګېده .
په ژورو ژورو کندو کي به ولوېده، اخر دومره زيات تېپي شو، چي له ځايه د پاسېدو نه و .
شونډه يې له سره تاوه کړې وه او اخر له ډېره درده او دخپل ظلم له لاسه بې کسه او بې څوکه مړ شو .

نو له همدې کبله وايي ،چي : پر مظلوم ظلم مه کوه ،د خدای له څېړې ووېرېږه !

# دوه سري مارغه

په پخوا زمانه کې په يوه ډېره ښايسته سيمه کې يو ډېر ګڼ، ګور او ښايسته بڼ و .
په دغه بڼ کې ددنيا د هر راز مېوو او ګلانو ونې بوټيو جاړې ژېلې موجودې وې .
د بڼ ددغه ښايست له کبله د لرې لرې ځايونو کارغان، مارغان، بېلابېل ژوي او ډول ډول ځناور هم پدغه بڼ کې موجود وو .
پدغو ډول ډول او ښکلو ښکلو مرغانو او ځناورو کې يو مرغه ډېر عجيبه غوندې و، داسې لکه مستقيم چې له جنت نه راغلى وي .
دغه مرغه ډېر ښکلى و، د وزرنو او ښکو رنګونه يې هم د سر له کاسې نه جلا نه وو.
خو پدې مرغه کې يوه ډېره نادره او عجيبه خبره دا وه، چې دوه سرونه يې درلودل .
دغو دواړو سرونو به هر کار په ډېر اتفاق او اتحاد کاوه، هره خبره ، هر چغار او هر خوراک ځښاک به يې په سلا مشوره کوه .
له ورځو نه يوه ورځ ددغه مرغه يوه سر يوه داسې مېوه وليدله ، چې نه ډېره لويه او نه ډېره وړه وه ، يوه خوا يې سره ښننه او بله خوا يې زرغونه وه .
دغه مرغه دغه ډول مېوه له دې پخوا هيڅکله نه وه خوړلې، د ځکلو په خاطر يې هغه مېوه پخپله مښوکه ووهله .
په مښوکه له وهلو سره د مرغه خوله لکه د شاتو دګبين په ځېر له خوشبويه شربت نه ډکه شوه .

د مرغه دغه سر چې دا مېوه یې په مښوکه وڅکله له ځان سره فکر وکړ، دامېوه خو ډېره خوندوره ده راځه راځه دا بل سر مه خبروه یواځې یې وخوره .
همداسې یې وکړل ، یواځې یې ورته په خوراک شروع وکړه، په همدې خوراک کې د دابل سر ورته پام شو، چې دا بل سر لګیا دی ژر ژر په مښوکه مېوه وهی اوخوري یې ، نوویې وویل : دا څه دي یار؟
ته په یواځې ځان داسې ژر ژر لګیا یې مېوه خورې ماته نه غږ کوې ، نه مې خبروې او نه لږه مېوه راکوې ، دا ولې ؟
هغه بل سر ځواب ورکړ : دا جنتي مېوه ده ، ډېره خوږه او مزناکه ده ، دا باید یواځې یو سر وخوري اوبل دا چې ما موندلې ده او زه یې د خوړلو حق لرم .
دا دویم سر خواشینی او دلګیر شو وېې ویل : زه به هم لږه وخورم ، له خوند سره به یې اشنا شم ، یو دوه ټوټې به ارمرو راکوې .
لومړي سر ژر ژر ټوټې وهلې او ویل یې ، چې دا د جنتیانو مېوه ده ، که یواځې زه یې وخورم نو څه فرق کوي ، ګېډه خو مو یوه ده ، جنت ته به دواړه سره لاړ شو .
دا یې وویل او ژر ژر یې ټوټې وارې کړې مېوه یې وخوړله، چې له دې کارسره دویم سر خفه او مایوسه شو .
څه موده وروسته دغه مرغه په ځنګله کې په یوه داسې ونه برابرشو ،چې مېوه یې ډېره زهرجنه وه .
مرغه چې ددغې مېوني ونې خواته ورسېد ، نو هلته یې له دغې ونې نه رالوېدلې یوه مېوه ولیده .
د مرغه دویم سره غوښتل دغه میوه وخوري نو د مېوې په لور روان شو، خو لومړي سر ورسره ونه منله .
د دوی تر منځ ددې مېوې د خوراک پر سره نانډرې پیل شوې، بلاخره فیصله پدې وشوه ،چې دویم سر به مېوه فقط ګوري او خوري به یې نه .

له همدې سره مرغه د مېوې خواته ورغی ، دوهم سره ژر په مېوه ټونګه ووهله ، لومړي سر په ورخطایی وویل : څه کوې ؟ دا خو ډېره زهرجنه مېوه ده ، په خوراک به یې دواړه ومرو .
دوهم سر وویل : دا هم جنتي مېوه ده ، که زه یې وخورم او که ته خو نیغ به زمونږ ګېډې ته ځي او دواړه به یو ځای جنت ته ورشو .
لومړي سر دوهم سره ته ډېر منتونه وکړل ، خو دوهم سر یې د خبرو پروا ونکړه ، ژر ژر یې مېوه په ټونګو ټونګو خلاصه کړه .
ددغې مېوې له خوراک سره لږ ساعت وروسته دغه نادر او بې ځاری مرغه د د خپلو سرونو د اتفاقی له امله د تل لپاره د هغې زهرجنې مېوې د خوراک له امله له دنیا نه پناه شو .

نووایي : هغه نسل چې په اتفاق او اتحاد کار نه کوي ، تل به خوارو زار وي او تباکیږي به .

# خر پړانګ

په پخوا وختونو کې یوه دوبي یو خر درلود، دا دوبي ډېر شوم او حریص و، هېڅکله به یې هم خپل خره ته ته په مړه ګېډه خوراک نه ورکاوه ، خو تول ورځ به یې ترې کار اخیسته .
وخت تېرېده اخر ورو ورو خر ډېر ډنګر، وچ کړس او نری نروچکی شو .
ظالم دوبي بیا هم د خپل خره پر حال ونه رحمېده، خو یوه خبره وه، چې دوبي د خره ددغه ډول وضعیت په لیدو پرېشانه شو ،چې هسې نه خر یې ونه مري .
ځکه چې دا خر د دوبي د عایداتو یواځینۍ وسیله وه .
یوه ورځ دوبي له سیند څخه د جامو ډکه درنده کته پر خره بار کړه او د لختې په زور یې هغه مجبور کړ ، چې روان شي نو ګوري چې دغلته په لاره کې یو پړانګ مړ شوی او مچان ورباندې بنېږي .
دوبي د پړانګ پوستکی وویست او خپل خره یې ته واغوست .
له دې وروسته به دوبي هر سهار سیند ته دخیرنو جامو وړلو نه وروسته د جامو کالیو په مینځلو بوخت شو او خر به یې ایله پرېښود .
خر به پردیو پټیو ته ننوت او د خلکو ولاړ فصلونه به یې په مړه ګېډه وخوړل ، نو له خرسره سره دوبي هم په مزو کې شو.
دخلکو د شنو ولاړو فصلونو له خوراک سره اوس خر د دوبي دوه چنده بار وړلای او راوړلای شو او هیڅکله یې په خپل کار کې ناغیړي نه کوله .
په ډېرو کمو ورځو کې خر غټ سورب شو ، ځکه هر چا چې به دغه خر په خپل پټي کې لیده ، نو ګومان به یې کاوه ،چې پړانګ په پټیو کې اموختنه شوی دی نو په منده به وتښتېده .

اوس نو دوبي د خپل خره لپاره یو موټی وابنه څه چې یو ډکی کبل پې هم ورته نه راوړل ، دوبي هم بنه خوشحاله و او خر هم .
یوه ورځ چې خر د یوه پټي په ولاړ شین فصل کې په خوراک لګیا و، مزې یې کولې ، نوهلته په هغه لاره د خرو یوه ګله تېرېده .

په دغه تېرېدونکې ګلې کې خره اوخرې دواړه وې، خره چې پورته وکتل خرې یې ولیدې، نو رمباړې یې شروع کړې .
د دې کلي ټولو خلکو چې د پړانګ په پوست کې دا خرلیدلی و او د هغوی د فصلونو د خوراک له امله ترې پزې ته راغلي وو، نوپه منډه منډه له کوټکو سره پټي ته راورسېدل او نور کلیوال یې هم خبر کړل،دوبي په سیند کې پخپلو جامو مینځلو بوخت و او کلیوالویې خر دلته په وهلووهلو له بنې بدې وویست .

نو وایي ،چې : دپړانګ د پوستکي په اغوستو خر پړانګ کیږي نه .

# ښامار او مېږيان

يوه تک تور زهرجن ښامار چې ډېر لوی او اوږ هم و، يوه ورځ يو ميږتون وليد.
ښامار ډېر رزيل او مغروره و، هغه دا خيال کاوه ،چې ډېر لوی غټ کټ او سورب دی او ميږی ورته هېڅ کوم ضرر نشي رسولی .
ښامار ميږتون ته ورننوت او زښت ډېر مېږيان يې وچقول، مړه يې کړل او ډېر زيات يې پرهري پرهري او تپيان کړل .
ډېر مېږيان له ښامارنه د ځان ساتنې په خاطر د ښامار پر بدن ونښتل .
د ښامار پر بدن يې چکونه او خولې لګول شروع کړل او دهغه دوينې په څکلو يې پيل وکړ .
زرګونه او ان لکونه مېږيان د پرهري ښامار په بدن ونښتل او وينه يې ورته څکله .
ښامار له دردہ تاوراتاو شو، وارخطا اخوا دېخوا يې منډې کړې ، ورغړېد راورغړېد، اخر ښامار لاچاره شو، خو ميږيان ترې لرې نشول .
بله ورځ سهار په لکونو مېږيانو ديو غټ سورب زهرجن ښامار توله غوښه خوړلې او تش هډوکي يې پاتې وو .

نو وايي، چې : په اتحاد او اتفاق د د نيا د هر ظالم مقابله کيدای شي !



د ال انډیا راډیو د پښتو څانګې پخوانی مشر
ښاغلی روشن لال ملهوتره

انجمن قلم افغانستان
WRITERS. THE PEN. A WORLD ASSOCIATION OF
Afghanistan PEN